# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



ليکوال: شريف بهاند


۱۲ مارچ ۲۰۱۱

# د پوځي اډو د جوړولو اړتيا او د هغو موخې

# ۱

د ښو د نست په ځای کي حقيقت (ريښتا) مه لټوه.

ارسطو

**سريزه:**

د طالبانو په وړاندې د متحدو ايالتونو په مشرى د نړيوالي ټلوالي جګړه، د انګلو ـ امريکايي يرغلونو د لړۍ هغه تازه کړۍ ده، چي څه نا څه له يوې پيړۍ راپدېخوا په نږدي او منځني ختيځ کي دوام او اوس هم په منځني اسيا کي راپيل شوې ده. که پخوانى سترځواک، بريتانوي امپراتورى او که اوسنى هغه دى، د نړيوالو شرايطو په پام کي نيولو سره، د خپلو يرغلونو لپاره بيلابيلي پلمي موندلي دي. اوس هم په سيمه کي د ديموکراتيکو خوځښتونو ملاتړ او د ولسواکي پربنسټ د دولتونو رامنځته کول، د زورواکو لکه صدام حسين له منځه وړل، د اسلامي بنسټپالي په وړاندې مبارزه، طالبان، اسامه بن لادن، د القاعدې شبکه او نړيواله ترهګرى له دغو يرغلونو سره تړاو لري. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د يوولسمي نيټي پېښه هم په همدې ډله کي درواخله.
له دغي پيښي وروسته، د منځنى او نږدى ختيځ د يرغلونو او زورزياتيو دغي لړۍ، نړيواله بنه غوره کړه. ايا پر افغانستان د متحدو ايالتونو او بريتانيا د هوايي يرغلونو موخه، د طالبانو د رژيم راپرځول و او که د نورو هغو ترڅنګ د سويل په لورى، د هند سمندر ته، د ستراتيژيکو توکو، د تيلو او ګازو د نل ليکو د لارو خلاصون ؟ او يا کومه بله موخه؟ دا چي موخه هر څه وي، خو اوس روښانه ده، چي د جګړې رسمي موخي يانې د القاعده د شبکې دړې وړې کول، د اسامه بن لادن نيول او د طالبانو له منځه وړل، ترلاسه شوې نه دي. بايد په دې هم سترګې پټې نشي، چي پيل شوې جګړه ځيني جانبي مثبتې لاسته راوړني لکه د ښځو نسبى ازادى، د بشر د ربنتو څه نا څه ساتنه، په ټولنيزو خدماتي چارو کي ځيني پرمختياوې، د ځينو بې کيفيته مادي بنسټنو جوړول ... او

داسي نور، له ځانه سره هم لري. خو هغه څه چي د هیواد لپاره ترټولو اړین و یاني د امنیت راوستل، له بده مرغه هماغه ډول دی، لکه څنګه چي د تیري پیری په وروستي لسیزه کي و، چي دا په خپله د متحدو ایالتونو او نړیوالي ټلوالي د پوځي ــ سیاسي کړو وړو ماته بلل کېدای شي.

له همدې امله بنایي ډیرو خلکو ته دا پوښتنه مطرح وي، چي متحده ایالتونه په خپل دغه ماموریت سره په منځني او نږدې ختیځ او منځني اسیا کي کومي موخي تعقیبوي؟ په رېښتیا هم په سیمه کي د ناڅرګند ځواک، ترهګری په وړاندي مبارزه کوي؟ او یا په دې هڅه کي دي، چي افغانان او افغانستان د القاعده له شبکي او زورواکو طالبانو څخه وژغوري ؟ او یا دا چي په سیمه کي د دایمي سولي او د دیموکراتیکو پرمختیاوو لپاره په مبارزه لګیا دي؟ او یا دا چي د خپلو جیوپولټیکي موخو یاني د فسیلي انرژی او نورو طبیعي توکو پر زیرمو د کنټرول د ترلاسه کولو لپاره دې سیمي ته راغلي؟ او یا واشنګټن په دې لټه کي دی، چي د سیال او دښمنو هیوادونو، د روسیې د فدراسیون او د چین د ولسي جمهوریت د محاصرې کړی بشپړه، هند تر کنټرول لاندي او د خپلو ملګرو دولتونو، جاپان او اروپا په وړاندې خپله اقتصادي ــ پوځي برترې ثابته او هغوي هم لکه د تیر په څیر تر خپل اغیز لاندي وساتي؟

که د نړیوالو پیښو د پرمختیاوو په رڼا کي پورتنیو پوښتنو ته د ځواب په لټه کي شو، روښانه ده، چي د واشنګټن له خوا رامنځته شوی یو وزری نړیوال نظم د بدلون په حال کي دی او ډیرو د لویدیځ، په ځانګړي توګه د متحدو ایالتونو پر برلاسی او اقتصادي ــ سیاسي اغیزمنتیا خپل باور له لاسه ورکړي. یاني د لویدیځ لپاره اوبه له ورخه تیرې دي. په دا ډول یو حالت کي ناروښانه او غیر واقعي موخي، لکه د بشر په تیره د ښځو د ربنتو دفاع، د ژوند د کچي لوړول او د ولسواکی پراختیا ایدیالیستي شعارونه بلل کېږي. نو د واشنګټن رېښتني او بنسټیزې موخي، د ترلاسه شوې برترې او د رامنځته شوي نا برابر حالت ساتنه، د سیال ځواک له رامنځته کېدو څخه مخنیوي او په تیره د پوځ په مرسته د طبیعي اومه توکو پر زیرمو او نړی کنټرول دی. ښه به دا وي، چي په افغانستان کي د پنټاګون د پوځي اډو جوړول د همدې لید له مخي وارزول شي. د اډو د جوړولو مسأله که له یوې‌خوا د هیواد ستراتیژیک ارزښت په ډاګه کوي، خو له بلي خوا د "دربیمي زریزې د سترې لوبې" د سیالی ډګر ته، چي افغانستان دی، د پخوانیو لوبغاړو تر څنګ نوي هغه هم رابولي. د همدې لامَل پربنسټ لیکوال اړینه وبلله، په دې لیکنه کي تر هرڅه دمخه د ستراتیژیکو موخو له پلوه اوسنی ستر ځواک، له لرغونو هغو سره پرتله او دا راوسپړی، چي واشنګټن له کومي تیرې امپراتورۍ سره په کومه برخه کي ورته والی او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره د هغي یا هغو له کومو تجربو څخه په څه ډول ګټه پورته کړې او کوي. ورپسي به د دغو تجربو له مخي د پوځي اډو په حقوقي بنسټ او د هغو په لګښت رڼا واچول شي او له هغه وروسته به د لیکني بنسټیزه موضوع د اډو دندې او موخي وڅیړل شي. د دغو دندو په ارزوني سره به وګورو، چي پنټاګون د کومو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره په افغانستان کي اډې جوړوي. په هیواد کي د امنیت او دایمي سولي د ټینګښت لپاره؟ او که د افغانستان په چارو کي د ایران او پاکستان د لاسوهنی د مخنیوي په موخه؟ او یا دا چي د کومو نورو هغو د ترلاسه کولو لپاره؟

**۱ ــ د اوسني ستر ځواک ورته والی له لرغونو هغو سره:**

د سړې جګړې په پایته رسیدو سره، د نړی د ډیرو وګړو په زړونو کي دا هیلي راټوکېدې، چي نور د اتومي وسلو او سیمه ییزو جګړو ګواښ له منځه لاړ او د هغه پر ځای د سولي یو نوي پیر پیل شو. په دې پیر کي به ټولي مادي او معنوي شونتیاوې نور د ایدیالوژیکو سیالیو په لار کي نه، بلکي ښایي ټولي هغه د بشریت د سوکالی

او د بیوزلی په وړاندي د مبارزي لپاره وکارول شي. خو له بده مرغه د دغه خوشبینانه نظر پر ځای، وینو چي بیوزلي او جګړه په نړیوالي اجندا بدله شوي او د بدلون په حال کي نړیوال نظم، چي د یووزری ځواک، متحده ایالتونه، له خوا د رامنځته کېدو په حال کي دی، له نویو ګواښونو او چلنجونو سره مخامخ دی. نو پوښتنه دا ده، چي دغه ګواښونه او چلنجونه کوم، د چا له خوا، په کومه پیمانه او د څه لپاره رامنځته شوي دي؟

دي پوښتنو ته د ځواب او د اوسني نړیوال نظم د ارزوني او د راتلونکي لپاره د وړاندوېیني په موخه، د تاریخ تیري پاڼي راسپړو او هغه د زماني د شاهد په توګه له ځانه سره مل او ورځخه پوښتو، چي څنګه لرغوني امپراتوري لکه د اتن او روم او د نوی پېر هغه د ساري په توګه مغولي، عثماني، بریتانوي او تزاري امپراتوري رامنځته شوي او همدارنګه د هغو د دړي وړي کېدو لاملونو په څه کي نغښتي وو؟ د دوی موخي څه وي؟ ځمکنۍ پراختیا؟ او که د هنر، فلسفي، سوداګری او ولسواکي وده؟ ایا اوسنی زبرځواک، متحده ایالتونه د کوم تیر سترځواک یا امپراتوری له تجربو څخه په ګټي اخیستني سره خپل کړه وړه تر سره او د هغو د اوسنیو پوځي هاند و هڅو رېښتني موخه ځمکنۍ پراختیا ده؟ او که د ولسواکي، ازاد بازار او نړیوالیدو پلي کول دي؟

که څوک هڅه کوي، له تاریخي پلوه امریکایي نظم وڅېړي، نو هرو مرو هغه د دوو لرغونو امپراتوریو، اتن او روم سره باید پرتله کړي. فرانسوي څېړونکی او سیاست پوه، امانویل تود Emmanuel Todd په همدي باب لیکي: "د روم لپاره د تاریخ مفهوم، ځمکنۍ پراختیا وه. د پوځي وسایلو په مرسته ځمکنۍ پراختیا په تیره د دغه ښار [امپراتوری] د شتوالي په طبیعت (سرشت) کي نغښتي وه. نورو ټولو عواملو لکه، کورني سیاست، اقتصاد او هنر دوهمه درجه ارزښت درلود. د روم په وړاندي (برخلاف) اتن له هماغه پیل څخه د سوداګرو او انځورګرو ښار او د هنر د لوبغاړو، فلسفي او د ولسواکي د زوکړي هغه بلل کېده. خو برخلیک هغه په یوه پوځي ځواک بدل کړ او لامَل یي [هم] د فارسیانو تیری و، چي د مقاومت په بهیر کي اتن له سپارت Spart سره په ګډه د یونان د ښاري دولتونو اداره ترلاسه کړه. د فارسیانو په ماتي سره سپارت له جګړي په شا شو او اتن چي یو سمندري ځواک و، له نورو ټاپوګانو او د اژې د سمندر د ښاري دولتونو سره په ټلوالي کي جګړي ته دوام ورکړ. د ټولني ځانګړو ځواکمنو غړو جګړه بیزې بیرې او کمزورو هغو پیسي دوی ته ورکولي. په دي ډول اتن د یوه سمندري ځواک په توګه په دیموکراتیکي بڼي سره رامنځته شو" [۱]. په لنډه توګه د نورو ترڅنګ د هنر، فلسفي، ولسواکي او د سوداګری پراختیا د اتن ځانګرتیاوي ګڼل کېدي. ایا د جغرافیایي پریوت ترڅنګ پورتني ځانګرتیاوي، د اوسني یووزري ځواک له هغو سره ورته والی لري؟ او که د متحدو ایالتونو اوسنی نظم د روم د امپراتوری له ځانګرتیاوو، ځمکني پراختیا، پر نورو واکمني، د لاندي شوو سیمو د طبیعي او کرهنیزو شتمنیو تالان او د نورو مریيتوب او مینځیتوب، سره د پرتلي وړ دی؟

ځیني سیاسي شنونکي او تاریخ پوهان، له یوېخوا اوسنی یووزری ځواک د روم له امپراتوری سره پرتله او د همدي ځانګو ځیني نور هغه، بیا متحده ایالتونه د اتن له هغي سره د پرتلي وړ بولي. خو د فرانسوي لیکوال، امانویل تود Emmanuel Todd په اند:" د هر چا لپاره چي د متحدو ایالتونو تر لاربښووني لاندي له اقتصادي نړیوالیدو سره مینه لري، له لرغونو امپراتوریو سره د دغه هیواد پرتله کول، څه د هغو د ګډو ځانګړتیاوو په پام کي نیولو او څه هم د دوی تر منځ د توپیرونو له مخي وي، ډیر د زده کړي وړ دي. هره پرتله، څه له اتن او څه هم له روم سره، روښانه کوي، چي د اقتصادي برتری رېښه په سیاسي او پوځي ځواکمنتیا کي نغښتي ده" [۲]. تجربو هم ثابته کړي، چي شتمني د پوځي ځواک ملاتړ ته اړتیا او پوځي ځواک نشي کولي، پرته له مالي وسایلو خپل کړه وړه تر سره کړي. د یورګین واګنر په اند: " پوځي ځواکمنتیا نه شی کیدی پرته له اقتصادي برتری

پاینټ ومومي ... ". نو له همدې امله " ... اړینه بریښي، چې اقتصادي او پوځي ځواکونه یو د بل په خدمت کې وي" [۳].

له همدې پرنسیپ یا د رومي امپراتورۍ له تجربو څخه په ګټې اخیستنې او د لیبرالي ایډیالوژۍ او د خپلو اقتصادي زیرمو په برکت، متحدو ایالتونو هم د یوه ستر ځواک ځانګړتیاوې ترلاسه کړې او د امریکایي لیکوال ویلیم انګدال William Engdahl په اند دغه ځانګړتیاوې یا په بله وینا د برلاسی بنسټیزې ستنې په لاندې ډول دي:

" ـ د هغه د ځواکمن پوځ برترۍ، په تیره بیا په سمندرونو کې؛

ـ ډالر د نړیوالې پیسې د زیرمې (ریزرف) په توګه او د هغه د رول له لارې د نړۍ پر اقتصادي بهیر کنټرول" [۴].

دغه هیواد له لومړۍ او دوهمې نړیوالې جګړې وروسته او په تیره د سړې جګړې په بهیر کې د پورتنیو ځانګړتیاوو په لرلو او د خپلې ټلوالې په مرسته او همکارۍ په نړۍ کې د پام وړ ستراتیژیکي برلاسي ترلاسه کړې او د هغه د لا ټینګښت په موخه یې دوه نړیوال اقتصادي ځواکونه لکه د المان فدرالي جمهوریت او جاپان د پروتکتورات Protektorat په بڼه ترخپل کنټرول لاندې راوستل. د امانویل تود په اند: " له کال ۱۹۴۵ راپدېخوا د نوي نړیوال ځواک، متحدو ایالتونو تر ټولو ستره بریا، د دوو هیوادونو، لویدیځ المان او جاپان نیول او تر پروتکتورات لاندې راوستل و. ځکه دوی له اقتصادي پلوه، نړیوال ځواکونه ګڼل کېدل. المان مخکې له جګړې، په نړیواله کچه دوهم صنعتي هیواد و او جاپان اوسمهال د دغه دریځ خاوند دی [اوس جاپان دریم مقام لري: لیکوال]. متحدو ایالتونو خپل ځواک د خپلې پوځي برترۍ له لارې پر دغو دواړو هیوادونو، چې د نړیوال اقتصاد د کنټرول لپاره ډیر د ارزښت وړ دي، وتپه. د متحدو ایالتونو او د روم د لرغوني امپراتورۍ ورته والی هم په همدې ټکي کې دی" [۵]. پنتاګون د دغو دواړو هیوادونو د لا بنه کنټرول او د ترلاسه شوې برترۍ د ساتنې په موخه، په هغو او ډیرو نورو نیول شویو ټاپوګانو کې پوځي اډې جوړې کړې. له هغه وروسته د واشنګټن بهرنۍ سیاست په بنسټیزه توګه ایډیالوژیک سیال ته د محدودیتونو د رامنځته کولو ستراتیژۍ ته ځانګړی شو. د دغه سیاست بنسټیزه موخه "نه یوازې د شوروی اتحاد محدودول، بلکې په سره جګړه کې د بشپړو بریاوو ترلاسه کول و" [۶]، چې متحدو ایالتونو ته دغه بریاوې ور په برخه هم شوې.

د شوروی اتحاد او ورسره جوخت د وارسا د پوځي سازمان په ډرې ورې کیدو سره، نړیوال لوبغاړي په دې فکر کې وو، چې د هغوی سیال پوځي سازمان، ناټو به هم منحل شي. خو وروستیو تجربو دا روښانه کړه، چې نه یوازې دغه پوځي سازمان منحل نشو، بلکې هغه ان د کومې نړیوالې اداري له باور لیک (اجازې) پرته د نړیوال ژاندارم دنده په غاړه واخیسته او په دې توګه د ناټو د پوځي سازمان لاربنود ځواک، متحدو ایالتونو ادعا وکړه، چې د نړۍ یوازینی زبرځواک او د نړیوال نظم ټاکونکی دی. نو ځکه امریکایي سیاستوالو په تیره نوو محافظه کارانو د تیرې پیړۍ په وروستي لسیزې کې اعلام وکړ، چې د یوورزی ځواک پیر رارسیدلی. واشنګټن باید "... د دغه ځواک پر بنسټ د نړیوالې ټولنې جوړښت [نړیوال نظم] ته داسې بڼه ورکړي، چې د دوی له ګټو سره سمون ولري. د همدې لامَل پر بنسټ او له ټولو شونتیاوو څخه په ګټې اخیستنې سره، نه یوازې اوسنی حالت وساتل، بلکې باید هغه ته پراختیا هم ورکړ شي" [۷]. د دغه نا برابر حالت له ساتنې سربیره باید خپلې بنسټیزې موخې هم ترلاسه کړي، چې په هغو کې تر ټولو مهمې:

ـ د نړۍ د طبیعي توکو پر پاتې زیرمو، په تیره د تیلو او ګازو پر هغو کنټرول ترلاسه کول؛

ـ د نوو سیالانو له رامنځته کیدو څخه مخنیوی او

ـ د اوسنیو هغو، د بیلګې په توګه د روسیې د فدراسیون او د چین د ولسی جمهوریت، د محاصرې بشپړول، دي.

په تیره د وروستی ټکی په اړه، د امریکا د متحدو ایالتونو د پخوانی ولسمشر مرستیال، دیک چینی په ۲۰۰۸ کال کې ریګا ته د خپل سفر په ترڅ کې ویلی و، "طبعاً موږ د دغې کړۍ د بشپړولو په لټه کې یو". په همدې موخه، "متحدو ایالتونو له خپلې خاورې بهر له ۷۵۰ څخه د زیاتو پوځي اډو یوه کړۍ د روسیې او چین په شا و خوا جوړه کړې ده، چې په هغو کې د فارس د خلیج په سیمه کې د تیلو د ګټو د خوندي کولو پوځي اډې هم شاملې دي"[۸]. وګورئ لاندني نقشه.

په نړۍ کې د متحدو ایالتونو مهمې پوځي اډې




اخځای:

Schmid, Fred/ Schreer: Nato, Rüstung, Krieg, Grafik-Report isw, Nr. ۱۲, München, ۲۰۰۹, S. ۲۳

د یوګوسلاویا جګړه هم د همدې موخو، د ترلاسه کولو لپاره تر سره شوه. ځکه دغه هیواد او په تیره بیا د هغه سویلی ولایت کوزوو له اسیا او افریقا څخه اروپا ته د تیلو او ګازو نل لیکو د غځولو د دهلیز  په توګه ګڼل کېږي. په پام کې ده، چې یوه نل لیکه د کسپین له سمندرګي څخه د تور سمندرګي د بورګاس Burgas د بندر له لارې بلغاریا او مقدونې ته او له دغه ځای څخه د کوزوو پولې ته څېرمه د البانیا فلورې Vlore ته د ۱۳ ، ۱ میلیاردو ډالرو په لګښت وغځول شي[۹]. همدارنګه په پلان کې ده، چې له الجزایر او لیبیا څخه هم د تیلو او ګازو نل لیکې دې سیمې ته ورسیږي. د دغو نل لیکو څارنه د متحدو ایالتونو د پوځ دنده ده. له همدې امله پنټاګون د سیمې په نوو رامنځته شوو  هیوادونو کې پوځي اډې جوړې کړې. سربیره پر دې د پخواني سیال پوځي سازمان، وارسا غړي هیوادونه، د نورو ترڅنګ رومانیا، بلغاریا، پولند، هنګري، ... او داسې نور د ناټو د سازمان په غړیتوب ومنل او

په هغو کي يي هم پوځي اډي رامنځته کړې. د بېلګي په توګه په هنګري کي ۱ ، پولند کي ۳ ، رومانيه کي ۴ او په بلغاريا کي ۵ پوځي اډي جوړي کړې [۱۰].

له پورتني ارزوني دا پايله ترلاسه کېږي، چي څنګه پوځي برترۍ د لويديزې نړۍ په تېره د متحدو ايالتونو د اقتصادي برترۍ لامَل شو. که څه هم لويديزې نړۍ، په ځانګړي توګه متحدو ايالتونو په تېرو دوو لسيزو کي هاند و هڅه وکړه، چي په نړيوال ډګر کي د اقتصادي ـ سياسي سيال يا سيالانو له رامنځته کېدو څخه مخنيوی وکړي. خو اوس داسي برېښي، چي د لويديځ دغه اقتصادي ـ سياسي برترۍ له سترو ګواښونو سره مخامخ وي. دا چي له اقتصادي پلوه سيال هيوادونه کوم دي، لاندېني جدول هغه په ښه توګه روښانه کوي.

راتلونکي اقتصادي ځواکونه

کورني ناسوچه (ناخالص) توليدات: شمېرې په مليارد ډالرو

| کال ۲۰۰۰ | | کال ۲۰۱۰ | | کال ۲۰۳۰ | |
|---|---|---|---|---|---|
| د امريکا متحده ايالتونه | ۹۹۵۱ | د امريکا متحده ايالتونه | ۱۴۶۲۴ | چين | ۳۱۷۳<br>۱ |
| جاپان | ۴۶۶۷ | چين | ۵۷۴۵ | د امريکا متحده ايالتونه | ۲۲۹۲<br>۰ |
| المان | ۱۹۰۶ | جاپان | ۵۳۹۱ | هندوستان | ۷۹۷۲ |
| برېتانيا | ۱۴۸۱ | المان | ۳۳۰۶ | برازيل | ۵۸۶۲ |
| فرانسه | ۱۳۳۳ | فرانسه | ۲۵۵۵ | جاپان | ۵۸۵۲ |
| چين | ۱۱۹۸ | برېتانيا | ۲۲۵۹ | روسيه | ۴۷۳۰ |
| ايتاليا | ۱۱۰۱ | ايتاليا | ۲۰۳۷ | المان | ۴۴۴۱ |
| کانادا | ۷۲۵ | برازيل | ۲۰۲۶ | فرانسه | ۴۲۰۵ |
| برازيل | ۶۴۲ | کانادا | ۱۵۶۴ | برېتانيا | ۳۶۴۴ |
| مکسيکو | ۶۲۹ | روسيه* | ۱۴۷۷ | مکسيکو | ۲۹۹۱ |
| اسپانيه | ۵۸۲ | هندوستان | ۱۴۳۰ | ايتاليا | ۲۸۶۸ |
| سويلي کوريا | ۵۳۳ | اسپانيه ▽ | ۱۳۷۵ | اندونيزيا* | ۲۴۴۶ |
| هندوستان | ۴۸۰ | استراليا ▽ | ۱۲۲۰ | کانادا | ۲۳۴۶ |
| استراليا | ۴۰۱ | مکسيکو | ۱۰۰۴ | ترکيه* | ۲۱۶۹ |
| نيدرلند ▽ | ۳۸۶ | سويلي کوريا | ۹۸۶ | سويلي کوريا | ۲۱۱۲ |

* د ۱۵ اقتصادي ځواکونو په ډله کي نوي رامنځته شوي هغه؛

▽ له دې وروسته د ۱۵ سترو اقتصادي ځواکونو په ډله کي نه شمېرل کېږي؛

اخځای:

Der Spiegel, Nr.: ۱, ۰۳. ۰۱. ۲۰۱۱, S. ۷٦

پورتني شمېرني لويديزوالو ته له ځانه سره ښه زيري نه لري. ځکه  د اسيا او لاتيني امريکا راپورته کېدل، د دوی د زوال په مانا ده. د ځينو اقتصاد پوهانو په اند، لويديځ کولی شي اوس هم اسيايي هيوادونه سيال او يا هغه د پخوا په څير د پرمختيايي هيوادونو په نامه ياد کړي، خو سمه به دا وي، چې دغو هيوادونو ته په هغو سترګو وګوري، چې هغه اوس ترټولو دمخه له اقتصادي پلوه، پرمختلونکي هيوادونه دي. که د دوی په دغي غوره شوي لار کې کوم خنډونه رامنځته کړي نه شي، لکه څنګه چې د پورتني جدول شمېرې ښيي، چين به په راتلونکو شلو کلونو کې د اقتصادي ځواک په توګه د متحدو ايالتونو ځای ونيسي او هند به له هغه سره اوږه په اوږه مخ په وړاندې درومي. خو لکه څنګه چې ښکاري، لويديځ سياستوال د دغو ګواښونو په وړاندې په ناراحتي سره غبرګون ښيي او په دې هڅه کې دي، چې نړۍ په تيره د هغې ستراتيژيکي سيمې د خپلې پوځي برترۍ له لارې اداره او تر خپل کنترول لاندې وساتي. د همدې لامَل پر بنسټ، لويديزې نړۍ په ځانګړې توګه د متحدو ايالتونه، د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې پوځي اډې جوړوې او په دې لټه کې دي، چې د نړيواليدو ستراتيژۍ د پوځ په مرسته پلي کړي.

نور بيا

اخځايونه:


١- Todd, Emmanuel: Weltmacht USA, Ein Nachruf, München, ٢٠٠٤, S. ٨٣-٨٤

٢- Todd, Emmanuel: Weltmacht USA, Ein Nachruf, München, ٢٠٠٤, S. ٨٦

٣- Wagner, Jürgen: Das US-amerikanische Imperium im Zeitalter der Globalisierung, S. ٤٠, in: C. Haydt / T. Pflüger / J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣

٤- Engdahl, F. William: Ein neues „American Century“? Der Irak und die heimlichen Euro- Dollar-Kriege, ٢٠٠٣, S. ٢ http://www.zeit-fragen.ch/ARCHIV/ZF_١٠٦a/T٠٥.HTM

٥- Todd, Emmanuel: Weltmacht USA, Ein Nachruf, München, ٢٠٠٤, S. ٨٥

٦- Wagner, Jürgen: Das US – amerikanische Imperium im Zeitalter der Globalisierung, S. ٣٦,  In: C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner:  Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣,

٧- Wagner, Jürgen: Das US – amerikanische Imperium im Zeitalter der Globalisierung, S. ٣٨ In: C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner:  Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣,

٨-Schmid, Fred/ Schreer: Nato, Rüstung, Krieg, Grafik-Report isw, Nr. ١٢, München, ٢٠٠٩, S. ٢٣

٩- Vgl.: Steinberg, Thomas Immanuel: Kriege um Transportkorridore, ٢٠٠١, S. ٧, in:
http://steinberg.populus.ch/rub/٢

١٠-Vgl.:
http://de.wikipedia.org/wiki/Liste_der_Milit%C٣%A٤rbasen_der_Vereinigten_Staaten_im_Ausland